Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service

**ریاست**

**د استقبال مرکز (کمپ) د تر لاسه کولو استعمال پیسې د 2024 کال د سپتمبر له لومړۍ نیټې څخه کمیږي**

د فنلینډ حکومت پارلمان داهدافو د یوې برخې په توګه د استقبال مرکز(کمپ)د ترلاسه کولو استعمال پیسو د کمولو پریکړه کړې ده. د سپتمبر له لومړۍ نیټې څخه، ستاسو ترلاسه شوي د ستعمال پیسې به لږې وي.

**د ترلاسه کولو پیسی د** 1.09.2024 **څخه**:

| حالت | د مرکز د خوب نه پرته / میاشتن | خواب په مرکز ی / میاشتن |
|---|---|---|
| یواځی ژوند کول | 300 € | 88 € |
| بل ۱۸ کلن دیر | 254 € | 72 € |
| یواځی والدین | 336 € | 97 € |
| سناتسو سره ژوند کوونکی ۱۷-۱۰ کلن ماشوم | 210 € | 60 € |
| سناتسو سره ژوند کوونکی تر ۱۰ کلن ماشوم | 191 € | 57 € |

**مصرف پیسې د** 1.09.2024**نیټې څخه**

د بې سرپرسته 16 کلنۍ نه کم عمر لرونکي ماشوم د مصرف پیسې په میاشت کې به په راتلونکي کې 26 یورو او د 16 کلنۍ نه پورته ماشوم لپاره 47 یورو وي، که ماشوم په هغه واحد ( کور یا ځای ) کې اوسیږي چې بشپړ ساتنه او پالنه برابروي. دمصرف پیسې همدارنګه د ماشوم د عمر او پرمختیا په پام کې نیولو سره کمېدای شي

**دا بدلون له پیرودونکو څخه کوم اقدامات نه غواړي**

تاسو کولی شئ په راتلونکي کې هم خپل د تر لاسه کولو یا مصارف( استعمال) پیسو غوښتنلیک خپل استقبال مرکز ( کمپ) ته وسپارئ او کمپ به ستاسو غوښتنلیک په عادي ډول پروسس کړي

تاسو باید دې ته چمتو اوسئ چې په راتلونکي کې به ستاسو په اختیار کې پیسې له مخکې نه کمې وي. که اړتیا وي تاسو کولی شئ د خپلې مالي حالت په اړه د استقبال مرکز ( کمپ) له کارکوونکي سره خبرې وکړ

که تاسو مخکې د تر لاسه کولو یا د مصارفو ( استعمال) پیسو لپاره د 1.09.2024 وروسته پریکړه ترلاسه کړې وي، ستاسو استقبال مرکز ( کمپ ) به تاسو ته نوی شوی پریکړه ولیږي. خپل پریکړه په دقت سره ولولئ. که تاسو په دې اړه کومه پوښتنه لرئ، له خپل استقبال مرکز ( کمپ) سره اړیکه ونیسئ.